مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد غفوری

۲۰۲۵/۱۰/۱۸

# پاکستان حق نه لري چې د افغانستان په خاوره تعرض وکړي

د نړیوالو اړیکو او دولتونو ترمنځ د متقابل درناوي اصل د نړۍ د ثبات بنسټ دی. هر هېواد د خپلواکو هېوادونو د حاکمیت، ځمکنۍ بشپړتیا او سیاسي استقلال په وړاندې د درناوی کول خپل اساسي مکلفیت بولي. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سرحدي شخړو، امنیتي عملیاتو او سیاسي تاوتریخوالي په رڼا کې دا پوښتنه رامنځته کېږي چې آیا پاکستان د نړیوال قانون له مخې حق لري چې د افغانستان په خاوره تعرض وکړي، کلی او کورونه او ان د کابل ښار بمبارد کړي؟

که د نړیوال قانون، اسلامي اصولو او سیاسي واقعیتونو له نظره وڅېړل شي، پاکستان هېڅ ډول قانوني، اخلاقي او شرعي حق نه لري چې د افغانستان په خاوره هر ډول نظامي اقدام ترسره کړي.

د ملګرو ملتونو منشور چې نړیوال معتبر قانون دی وایی چې "ټول غړي هېوادونه د نورو هېوادونو د سیاسي استقلال او ځمکنۍ بشپړتیا درناوی ته مکلف دي او چې ... "هیڅ دولت نه شي کولای د بل دولت د ځمکنۍ بشپړتیا یا سیاسي استقلال پر ضد د زور د کارولو ګواښ وکړي او یا دا کار ترسره کړي." نو د افغانستان په خاوره د پاکستان هوایي او ځمکني عملیات د ملګرو ملتونو د منشور له موادو ښکاره سرغړونه ده.

د افغانستان په خاوره د هر ډول هوایي برید، د توپچي ګولیو یا ځمکنیو عملیاتو ترسره کول، د افغانستان د حاکمیت ښکاره نقض دی؛ ځکه چې هر حکومت د خپلو پولو دننه د سیاسي، نظامي او اقتصادي پرېکړو بشپړ واک لري او د هر بهرنۍ ځواک مداخله ورپکې په ملی حاکمیت تیری بلل کیږی.

د پاکستان دا ادعا چې د افغانستان په خاوره کې د "خپل ځان د دفاع" په خاطر حملې کوي، د ملګرو ملتونو د منشور د موادو له مخې غلطه ده. ددې منشور د ۵۱ مادې له مخې د یوه هېواد د ځان دفاع یوازې هغه وخت قانوني ده چې "یو هېواد تر وسلهوال برید لاندې وي او دفاعي اقدام یې فوري، ضروري او متناسب وي." تر اوسه هېڅ داسې باوري نړیوال شواهد نشته چې د افغانستان له خاورې د پر پاکستان منظم دولتي برید شوی وي. نو د ځان د دفاع ادعا بېاساسه او یوه سیاسي توجیه ده، نه حقوقي دلیل.

پاکستان زموږ د اسلامي او ګاونډی هېواد په حیث د شریعت له مخې هم دا جواز نه لري؛ ځکه چې یو مسلمان هېواد ته د بل مسلمان پر خاوره تعرض کول حرام، ظالمانه او د اسلامي امت د وحدت خلاف کار دی.

د افغانستان پر خاوره نظامي تیری نه یوازې د نړیوال قانون او اسلامي شریعت خلاف دی، بلکې د سیمې د ثبات لپاره هم خطرناک عمل دی چې د دواړو هېوادونو ترمنځ تاوتریخوالي زیاتوي؛ د ترهګرۍ د ودې لپاره زمینه برابروي او پاکستان هم د نړیوالې ټولنې لخوا منزوی کوي.

اوس چې د پاکستان نظامیانو دا سهوه کړې چې د افغانستان پر مختلفو ولایاتو او ان د کابل په زړه باندې یې یرغل او افغاني لوري هم غچ اخیستونکی اقدام کړی دی، د معضلې د حل ښه لاره د دواړو هېوادونو تر منځ د سیاسي خبرو اترو او ډیپلوماتیکو لارو د اختلافاتو حل کول؛ د سرحدي امنیت لپاره د ګډ میکانیزم جوړول؛ د ملګرو ملتونو یا اسلامي همکارۍ سازمان (OIC) تر چتر لاندې د منځګړیتوب د هڅو پیلول او د سولې او تفاهم د پیاوړتیا لپاره د دواړو هېوادونو د رسنیو، پوهانو او مدني ټولنو رول غښتلي کول دی.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لنډه دا چې د نړیوال قانون، اسلامي اصولو او سیاسي منطق له مخې، پاکستان هېڅ قانوني، شرعي یا اخلاقي حق نه لاره او نه یې لري چې د افغانستان په خاوره تعرض وکړي.  د پاکستان د نظامي تعرض په پایله کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د رامنځته شوی یا زیاتې شوې دښمنی، بې باوری او کړکېچ د ژورتیا مسئولیت د پاکستاني لوري پر غاړه دی. د سیمې امنیت، ثبات او پرمختګ هغه وخت ممکن دی چې د یو بل حاکمیت ته درناوی وشي او د ګډو ګټو پر اساس متقابل احترام رامنځته شي.

۱۶ اکتوبر ۲۰۲۵ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ